# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۴مه | د ۲۰۲۰ د نومبر خلورمه | ۶۲۳مه گڼه


# بشري ناورين او ملي ماتم؛

## طالبان او حکومت يو بل د جګړو په اوږدولو او ملکي مرگ ژوبله تورنوي



۳

پر کابل پوهنتون برید ولې د سولې ضد کارول کېږي؟

۲ مخ

د چین د دربیم نړیوال وارداتي نندارتون اهمیت

۲ مخ

له طالبانو سره مل بهرني جنگيالي؛ افغان سولې ته بل جدي گواښ دی!


۳ مخ

## امریکايي رسنی: امريکا د داعش ضد جګړه کې د طالبانو هوايي ملاتړ کوي

په دې وروستيو کې د امريکا او طالبانو ترمنځ د ګډو کارونو يو شمېر راپورونه ورکړل شوي او طالبانو امريکا ته له داعش ډلې سره د مبارزې ډاډ ورکړی دی.

په همدې حال کې انټيل نيوز راپور ورکړی چې د امريکا متحده اياالتونه هغه وسلې چې تر دې مخکې يې د طالبانو پر ضد کارولې، اوس يې د طالبانو په ملاتړ د داعش ډلې پر وړاندې کاروي. په راپور کې دا نه ده روښانه شوې چې دا وسلې طالبانو ته ورکړل شوي او که څنگه. راپور کاږي، له طالبانو سره د امريکا د نوي ملګرتيا خبره تازه نه ده؛ څکه چې د روان کال په مارچ مياشت کې د امريکا د مرکزي قوماندانۍ مشر فرانک مک‌کېنزي د امريکا کانګرس ته د معلوماتو ورکولو پر مهال اعتراف کړی و چې طالبانو د دوی څه ناڅه ملاتړ ترلاسه کړی، خو په دې اړه يې نور جزيات نه وو ورکړي. په راپور کې د نظامي چارو د يو مخکښ خبريال وسلي مورګان له قوله ويل شوي، مک کېنزي په ختيځ کې خپلو پوځيانو ته سپارښتنه کړې وه چې بايد له داعش ډلې سره په جګړه کې د طالبانو هوايي ملاتړ وکړي. مورګان ويلي، په ختيځ کې د امريکايي اډې يو پوځي چارواکي ورته دا مسئله تاييد کړې او په خندا يې ويلي، ځينې ملګري يې هغه ټيم چې د طالبانو لپاره هوايي ملاتړ برابروي، د طالبانو د هوايي ځواک په نامه يادوي. د راپور په پای کې راغلي، تر اوسه معلومه نه ده چې افغان حکومت له دې مسئلې خبر دی او کنه.

## خلیلزاد: طالبان او افغان حکومت دې د امتیاز غوښتلو جګړه پای ته ورسوي




۵ مخ

## کتاب


۴ مخ

### مذاکره




کله چې دا کتاب لولی، په دې اړه فکر وکړئ چې زه باید له نن څخه ښې لاسته راوړنې ولرم او هغه وخت چې دا مفکورې عملي کړی، حیران به شی چې څه گڼوره مذاکره مو تر سره کړې او څومره یې له پایلو خوښ یاستی.

## کرنې رياست: روان کال په ننګرهار کې د وريجو حاصلات د پخوا په پرتله ډېر شوي



د ننګرهار ولايت د کرنې او مالدارۍ رياست وايي، چې په دغه ولايت کې د شولو کروندې څه باندې ۷۷۰ هکټاره زيات شوي او د حاصلات کچه يې هم د تېرکال په پرتله ډېر شوي دي.

د ننګرهار د کرنې رياست چارواکي وايي، چې په تېر ۱۳۹۸يم کال کې د دغه ولايت په ۱۴ زره او ۴۹۲ هکټاره ځمکه کې شولې کرل شوې وه، چې د حاصلاتو کچه يې ۳۱ زره او ۱۱۹ مېټريک ټنه وه، خو سږکال دا کچه۷۷۰ هکټاره زياته شوې ده.

د ننګرهار د کرنې رياست وايي، چې د دغه ولايت د شولو کروندې او حاصلات «کرنیز تناوب» ته په کتو هرکال بدلون کوي. د ياد رياست د چارواکو په خبره، په ننګرهار کې بزګرانو ته د کتار په ډول د شولې نندارېزې قطعې جوړول هم د شولې د محصولاتو په زياتوالي کې مرسته کړې ده.

## بشری: ۱۱۶ مسئول حکومتی به اتهام فساد در هزینهٔ کرونا به څارنوالی معرفی شدند



ادارهٔ ملی بازرس می گوید که ۱۱۶ مسئول حکومتی را در هشت ولایت کشور، به اتهام فساد در مصارف برای جلوگیری و مبارزه با ویروس کرونا، به څارنوالی معرفی کرده اند.

فیروز بشری رئیس روابط و اطلاعات ادارهٔ بازرس، گفته است که هرات، غور، قندهار، میدان وردک، بدخشان، نورستان، سمنگان و تخار، شامل این هشت ولایت می باشد.


وی افزوده است که در خصوص اختلاس، فساد و چگونگی مصارف منابع کرونا در این ولایات، قضایای مختلف را بررسی کرده اند. بشری افزوده است که در رابطه به این قضایای هشت ولایت ذکرشده، ۱۱۶ مقام و مسئول حکومتی را برای تحقیقات بیشتر، به حیث متهمان به لوی څارنوالی معرفی کرده اند.

به گفتهٔ موصوف؛ این قضایا را با جدیت بیشتر، بی طرفانه، مسلکی و با در نظرداشت اصل عدالت بررسی کرده است.

رئیس روابط ادارهٔ بازرس گفته است که در خصوص افراد متهم، نزدیک به یکهزار صفحه اسناد و مدارک که بیانگر دخالت این افراد در فساد می باشد نیز به لوی څارنوالی فرستاده شده است.

به گفتهٔ موصوف در جمع این افراد، والی ها، رؤسا و مسئولان دیگر نیز شامل می باشند.

وی افزوده است که ادارهٔ بازرس، در مقابل فساد با جدیت عمل میکند؛ در این بخش هیچ مفسد، مصئون نیست و از هموطنان دیگر میخواهد که اگر در رابطه به فساد هرگونه اسناد داشته باشند، آن را با این اداره شریک سازند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریــځ

# پر کابل پوهنتون برید ولې د سولې ضد کارول کېږي؟

پر کابل پوهنتون وحشیانه او خونړی برید په نړیواله کچه غندل شوی او د دغه برید د عاملینو د پیدا کولو او محاکمې غږ شوی دی.
وروستي معلومات دا دي چې په دغه برید کې ۲۲ کسان شهیدان شوي او تر شلو ډېر ټپیان دي. شهیدان او ټپیان لویه برخه د عامه پالیسی محصلین دي. که څه هم د برید پړه داعش منلې ده، خو حکومتي چارواکي بیا بیا وايي چې برید طالبانو کړی او دوی یې له مسوولیت څخه ځان نه شي ژغورلی.
له دغه وحشت او جنایت سره هممهاله منظمه هڅه روانه ده چې له دې برید په استفادې سره د سولې پروسه تخریب شي او پر جګړه ټینګار وشي. له برید وروسته نامعلومو کسانو د کابل پوهنتون پر دېوالونو د سولې ضد او د روانو خبرو د قطع کولو شعارونه لیکلي وو. ورسره په ټولنیزو رسنیو او آن نورو رسنیو کې هم د سولې د خبرو د درولو او ناکامولو یو منظم کمپاین لیدل کېده. د برید د څرنګوالي او عاملینو په اړه شکونه او بې ځوابه پوښتنې یوه خوا او ورسره دا کمپاین بل خوا د یو پلان شوي کار دوه مخونه ښکاري. پر کابل پوهنتون د وحشیانو د برید یو اساسي هدف دا ګڼل کېده چې د سولې خبرې تر سیوري لاندې راولي او دا خبرې له ناکامی سره مخ کړي. اوس هغوی چې له دې برید وروسته د سولې ضد کمپاین کوي، یا خو په ناپامی د برید کوونکو له هدف سره مرسته کوي او یا هم ځینې یې په شعوري او قصدي ډول دا کار کوي او ښایي د بریدکوونکو او د سولې ضد فعالینو ترمنځ کومه پلان شوې اړیکه هم وي.
له برید وروسته د برید په ځای کې د طالبانو د بیرغ موندل کېدل او پر دېوالونو د داسې شعارونو لیکل چې ښیي په برید کې طالبان ښکېل وو، تر ډېره همداسې یوه هڅه ښکاري چې د سولې خبرو ته پرې زیان واړوي. دا نښې ښایي له برید وروسته هلته جوړې شوې وي او یا هم ښایي بریدګرو په قصدي او شعوري ډول داسې نښې پرې اېښې وي.
اوس پوښتنه دا ده چې که برید طالبانو کړی و او انکار یې ترې کاوه، نو بیا یې نښې ولې پرېښودلې او که یې نښې پرېښودلې، نو بیا یې له بریده انکار ولې کاوه!؟ له همدې امله دا احتمال ډېر دی چې د وحشي بریدګرو، د برید د طراحانو او د سولې ضد کمپاین کوونکو ترمنځ د کوم پټ تړاو شونتیا شته.
پر کابل پوهنتون برید وحشت، جنایت او د ټولو ارزښتونو خلاف عمل و، خو ایا د سولې د خبرو درول او د جګړې دوام د دغه ډول بریدونو مخه نیولی شي؟ دا سمه ده چې د سولې خبرې اوس سمې نه دي روانې، خو دروازه پرانیستې ده او تمه ده چې مثبت بدلون به پکې راشي، بریالی به شي او موږ به یو مخ له دغسې بریدونو او وحشتونو خلاص شو، خو که خبرې ودرېږي، ناکامې شي، ډېر نور داسې بریدونه به وشي او موږ به بیا بیا د خپلو ورونو او خویندو ویر کوو او هېڅ تضمین نشته چې په جګړه به د دغه حالت مخه ونیسو. له همدې امله د سولې ضد فعالیت پر پوهنتون له وحشي بریدګرو او د هغوی له ملاتړو سره مرسته ده او د سولې غږ د وحشي بریدګرو د ارمانونو او شومو موخو شنډول دي او دا د هر رښتیني افغان دنده ده چې د سولې غږ لوړ وساتي او په دې برخه کې تر خپلې وسې هڅې وکړي.

# د چین د درېیم نړیوال وارداتي نندارتون اهمیت



لیکواله: **سپوږمۍ**
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله




تاکل شوې چې نن (د نومبر ۴مه) د چین په سوداګریز مرکز شانګهای ښار کې د دغه هېواد درېیم نړیوال وارداتي نندارتون (CIIE)پرانیستل شي.
په دې لیکنه کې د یاد نندارتون موخې، اهمیت، کچې او ګډونوالو تصدیو د څرنګوالي په اړه رڼا اچول شوې.

**د نندارتون موخه**

چین د نړۍ د دویم لوی اقتصادي قدرت په توګه له ټولې نړۍ سره صادراتي او وارداتي راکړې ورکړې لري او د راکړې ورکړې د دغه ځنځیر د لا غښتلتیا لپاره هڅې کوي، څو خپلو مشتریانو او نړیوالو شریکانو ته د سوداګرۍ په برخه کې لا اسانتیاوې برابرې او ګډې ګټې تر لاسه کړي؛ نو د همدې هڅو په لړ کې یې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۸ کال کې په شانګهای کې نړیوال وارداتي نندارتون جوړ کړ او ټاکل شوې چې دغه نندارتون به هر کال جوړېږي.
د سږ کال نندارتون
رسمي سرچینې وايي چې د چین د روان کال نړیوال وارداتي نندارتون کچه به د تېرو نندارتونونو په پرتله لویه وي او عمومي مساحت به یې د تېرې دورې په پرتله کابو ۳۰زره مربع متره زیات وي.
د دې تر څنګ، په دغه نړیوال نندارتون کې ګډون کوونکې تصدۍ او ننداره کېدونکې توکي به د پخوا په پرتله باکیفیته او غوره وي چې د خوړو او کرنیزو تولیداتو، موټرو، تخنیکي تجهیزاتو، مصرفي توکو، طبي سامان الاتو او خدماتي سوداګرۍ په ګډون به پر شپږو برخو ویشل کېږي.
د پام وړ ټکی دا دی چې اوسمهال چې په اروپا او امریکا کې کرونا وبا لا هم چټکه خپرېږي، خو په چین کې دومره ستر نړیوال نندارتون تر سره کېږي، دا د چین یو امتیاز او مثبته لاسته راوړنه ثابتوي.

**د چین په نړیوال وارداتي نندارتون کې د افغانستان ونډه**

تاسو ته معلومه ده چې افغانستان یو زراعتي هېواد دی او سربېره پردې پربمانه طبیعي زیرمې هم لري، په دې مانا چې هم د خامو موادو د صادرولو او هم د زراعتي محصولاتو د صادرولو وړتیا لري، نو ځکه د چین نړیوال وارداتي نندارتون د افغانستان لپاره هم ډېر اهمیت لري.
ما د ۲۰۱۸ کال په نومبر کې د چین په لومړي نړیوال وارداتي نندارتون کې د راپور جوړولو په موخه شانګهای ته سفر وکړ او د یاد نندارتون چارې مې له نږدې ولیدې.
د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت یوه پلاوي او ځینو افغان سوداګرو هم په یاد نندارتون کې ګډون کړی و.
د چین په لومړي نړیوال وارداتي نندارتون کې د افغانستان لپاره بېله کړل شوې څانګه د اسلامي معمارۍ په بڼه جوړه شوې وه او د پاسه پرې د افغانستان درې رنګه بیرغ ټینګ شوی و، چې د ډېرو چیني او بهرنیو ندارچیانو توجه یې جلب کړې وه.
هغه وخت د افغانستان په څانګه کې ښکلو لاسي غالیو، زعفرانو، جلغوزو او لاجوردو د ټولو کتونکو توجه ځان ته جلب کړې وه.
هغه وخت د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نندارتون چارو اداري مشر ذبیح الله یوسفي ما ته وویل، چې د رچین نړیوال وارداتي نندارتون د افغانستان په ګډون مختلفو هېوادونو ته ښه فرصت دی، چې خپلو صادراتو ته یو نړیوال بازار پیدا کړي.
نوموړي زیاته کړه، نندارچیان زموږ د ښکلو محصولاتو او صنایعو په کتو سره یو ښکلی، په زړه پورې، مثبت او غني سرچینې لرونکی افغانستان کتلای شي او دا د افغانستان له جګړې او زورزیاتي سره هېڅ تړاو نه لري. هغه څه چې موږ چین ته راوړي دي، د افغانستان باکیفیته هنري توکي، سولې ته د افغانانو امید او ځانګړي تولیدات دي.
ما د افغانستان لپاره د ځانګړې شوې دولتي څانګې پر لیدو سربېره، (عظیمي برادرز) په نوم د افغانستان د یو سوداګریز شرکت غرفه هم پیدا کړه، چې د چین په لومړي نړیوال وارداتي نندارتون کې یوازینۍ ګډون کوونکې افغان تصدي وه. دغه شرکت له ډېرو کلونو مخکې د چین او افغانستان تر منځ سوداګریز مالونه وړي راوړي او اوس یې په شانګهای او یې وو کې خپل دفترونه جوړ کړي دي.
دغه شرکت په پیل کې یوازې له چینه افغانستان ته د ژوند ضروري توکي صادرول، خو له تېرو څو کلونو راهیسې یې له افغانستانه چین ته د لاسي غالیو، وچو مېوو او زعفرانو په واردولو هم پیل کړی دی. کله چې ما د دې عرفې تر څنګ د دغه شرکت له عمومي منېجر ښاغلي عید محمد عظیمي سره خبرې کولې، د چیني شرکتونو زیات مسلکي پېرودونکي په مسلسل ډول دې عرفې ته ننوتل او وتل او یو څه ګڼه ګوڼه وه.
دوی له ښاغلي عظیمي څخه د تولیداتو په اړه پوښتنې کولې او د همکارۍ خپله ابتدایي علاقه یې څرګندوله چې له دې امله آن څو ځله زما او عظیمي تر منځ خبرې پرې شوې او له مشتریانو سره به په خبرو شوو. ښاغلي عید محمد عظیمي ما ته وویل چې د چین حکومت د وارداتو د هڅولو لپاره ځینې امتیازي تګلارې پلې کړې دي، لکه چې زموږ د بهرنیو شرکتونو ګمرکي تعرفې یې کمې یا لرې کړې او نننی نړیوال نندارتون یې جوړ کړ. دا موږ ته ډېر قیمتي فرصت دی. موږ هیله لرو چې له دغه فرصت څخه په ګټې اخیستلو سره له غوره چیني شرکتونو سره ښې همکارۍ وکړو او چینایانو ته د افغانستان ځانګړي او غوره تولیدات معرفي کړو.
په بېجینګ کې د افغانستان د سفارت د معلوماتو له مخې، سږ کال ښایي ۵ افغان شرکتونه د چین په ۳ نړیوالو وارداتي نندارتونونو کې ګډون وکړي او ځینې افغان سوداګر له دغه نړیوال نندارتون څخه د لیدنې لپاره چین ته راغلي دي.
د (عظیمي برادرز) شرکت بنسټ ایښودونکي ښاغلي حاجي قیوم عظیمي او د عید محمد عظیمي پلار د ویچېټ له لارې راته وویل، چې د ده غرفه چمتو شوې ده او هیله من دی چې له چیني شرکتونو سره لا زیاتې همکارۍ وکړي.

**د نړیوالو تصدیو لپاره د بازار موندنې ښه فرصت**

د چین نړیوال وارداتي نندارتون چې هر کال جوړېږي، نه یوازې د بې شمېره بهرنیو تصدیو لخوا چیني مصرف کوونکو ته د خپلو غوره تولیداتو د معرفي کولو تر ټولو ښه ځای دی، بلکې د دغو بهرنیو تصدیو تر منځ د تبادلې یو مناسب ډګر هم بلل کېږي.
د ۲۰۲۰ کال له پیل راپدېخوا په ټوله نړۍ کې د کرونا وبا پرلهپسې څپې را پورته کېږي او تر اوسه یې پر زیاتو هېوادونو او حتی نړیواله سوداګرۍ هم سخت اغېز کړی دی.
په داسې سخت او پېچلي حال کې د چین د درېیم نړیوال وارداتي نندارتون تر سره کېدل به خامخا د ټولې نړۍ د پام وړ وګرځي او چین هم د دې وبا له اغېزو خوندي نه دی پاتې، مګر چین اوس له نورو نه مخکې خپل اقتصادي پرمختګ موندلی، د نړیوال وارداتي نندارتون په جوړېدو سره خپل کورني بازار ته د لا زیاتو بهرنیو تصدیو لار یې پرانیستې او وارداتي چارې هڅوي. له دې څخه د چین لخوا د اصلاحاتو او ورخلاصون تګلارې د لا پسې ژورتیا ټینګ هوډ ښکاري.
دا د دې ښودنه کوي چې چین به د نړیوالې سوداګرۍ څو اړخیز سیستم په ټینګه توګه وساتي او له نړیوالې ټولنې سره به د اوسنیو ستونزو د حل لپاره ګډې هڅې وکړي.

# راپورونه: په اتریش کې د وسله والو کسانو په ډزو کې ۱۹ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده




د راپورونو له مخې، په اتریش کې د وسله والو د ډزو په ترڅ کې لږ تر لږه دوه نارینه او دوې ښځې وژل شوي او ګڼ شمېر ټپیان شوي دي.
په پلازمېنه ویانا کې وسله والو څو ځایه بریدونه کړي. دې د اتریش لومړي وزیر سیبستیان کروز دا بریدونه تروریستي بللي او د ټپیانو په اړه یې ویلي: «د قانون نافذوونکی په مېړانه د برید کوونکي مخې ته ودرېد، پر ده ډز وشو او ټپي شو. ۱۴ نور هم ټپیان شوي دي چې ځینې یې سخت زخمیان دي او یو شمېر یې له مرګ سره لاس او ګرېوان دي.»
په ورته وخت کې د اتریش د کورنیو چارو د وزارت په وینا، د پنځلس کورونو تلاشي شوې ده او یو شمېر مشکوک کسان نیول شوي دي.
پ ورته وخت کې د استرالیا لومړي وزیر سباستیان کروڅ دا برید غندلی او هغه یې یوه تروریستي هڅه بللې ده. د یاد هېواد پولیس وايي چې د مشکوک بریدو کوونکي د نیولو لپاره یې هڅې چټکې کړې دي.
راپورونه وايي چې یاد وسله وال کس د ویانا ښار په شپږو بېلابېلو سیمو کې بریدونه کړي او ګڼه مرګ ژوبله یې اړولې ده.
سیمهییزې رسنۍ وايي چې په دغو بریدونو کې څلور کسان وژل شوي او د یوه پولیس په ګډون ۱۵ نور ژوبل دي. پولیس دغه راز وايي چې یو مشکوک بریدګر یې ویشتلی او د نورو د نیولو هڅې یې هم چټکې کړې دي.
د اتریش د کورنیو چارو وزیر کارل نیهامیر ویلي، له ځانګړو ځواکونو غوښتل شوي چې د نورو مسلح او خطرناکو بریدګرو د لټون هڅې دې چټکې کړي او ژر تر ژره یې دې د قانون منګولو ته وسپاري. که څه هم تر اوسه کومې ډلې د دغه برید مسوولیت نه دی منلی، خو تر دې وړاندې د ورته بریدونو پړه پر داعش وسله والې ډلې ور اچول شوې دي.
د یادونې چې په دې وروستیو کې په اروپا کې د اسلام د پیغمبر د کاریکاتورونو له خپرونو او د اسلام ضد شعارونو او تبلیغاتو له ډېرېدو سره هممهاله وسله وال بریدونه هم ډېر شوي چې پکې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.



## له طالبانو سره مل بهرني جنګیالي؛

# افغان سولې ته بل جدي ګواښ دی!

لیکوال: هارون حکیمي

د سولې په موخه د بین الافغاني مذاکراتو له پیلیزو خبرو سره هممهاله، د هیواد په بېلابېلو برخو کې د وسله والو بریدونه، په ښارونو کې د جنايي پېښو پراختیا او هدفي وژنې ډېرېدل چې یو له بل سره تړلي دي، د سولې په هکله پر ټولیزه اراده څرګند منفي اغېز لري. دا چارې که په ظاهره د طالبانو له لوري د ډېرې ونډې اخیستو او فشار په موخه تر سره کېږي؛ له آره د دوی د بهرنیو جنګیالیو د ملاتړ په ګټه دي چې پایله یې د طالبانو په زیان تمامېږي. له ستراتیژیکه اړخه، د روان تاوتریخوالي په پلانونو، ستراتیژیو، او تاکتیکونو کې د بهرنیو جنګیالیو په ځانګړې ډول القاعده او داعش له دوکتورینو څخه، چې تر ډېره د افغانستان د څلوېښت کلنې جګړې په اوږدو کې د بهرنیو ستراتیژیستانو لخوا تالیف شوي دي، کار اخیستل کېږي. د ابوبکر ناجي په نوم ( د بربریت مدیریت) اصولو یوې ټولګې چې د وسله والې مبارزې د وروستۍ مرحلې په توګه یې ډار اچوونکي او پر حکومت د فشار راوستلو په موخه د ولس ځپوونکې لارې چارې بیان کړې دي؛ د همدغو اصولو پلي کېدل نن ورځ تر نورو ډېره محسوسېږي. پر کوثر دانش او کابل پوهنتون بریدونه د یادو اصولو د تطبیق تر ټولو ژوندۍ بېلګې دي. د هلمند د وروستۍ جګړې په ګډون، د ډېرو ډله ییزو بریدونو لپاره او دغه راز په غزني کې د القاعده د یوه مهم مشر ابومحسن المصري وژل کېدل، د وسله والو په لیکو کې د بهرنیو جنګیالیو فزیکي حضور په ډاګه کوي، چې د دوحې تر تړون وروسته له امریکایي ځواکونو سره نه؛ بلکې د افغان دولت پر وړاندې لا هم د افغانستان په جګړه کې ښکېل دي. دغه راز د جګړې د دوام پر اراده، د همدې نړیوالو جنګیالیو ایډیالوژیک اغېز څرګند دی.

بهرني جنګیالي چې د امریکا د جورج ټاون پوهنتون استاد او څېړونکی ډانیل ببمن یې لاروي جنګیالي بولي، له خپلو هیوادونو راوتلي هغه تروریستان دي، چې د خپلو ځانګړو موخو لپاره په جګړو کې خپل پایښت ویني او بیرته خپلو هیوادونو ته نه شي ګرځېدلای. د دې پدیدې اوسنی ډول د شوروي پر وړاندې د افغان جهاد له کلونو راپیل شو، چې دا مهال یې د امریکا د بروکینګز انسټېټیوټ د څېړنو له مخې، په نړیواله کچه شمېر تر څلوېښتو زرو اوړي.

دا افغانستان سوله د ټولو بهرنیو جنګیالیو لپاره ګواښ دی؛ خو تر ټولو ډېر د هغو لپاره چې په فزیکي بڼه په روانه جګړه کې حضور لري. د طالبانو، سیمه ییزو او بهرنیو جنګیالیو د ګټو دغه ټکر په اوو ټکو کې څېړل کېدای شي:

لومړی؛ د دوحې د تړون په پلي کېدو به د طالبانو او القاعده او نورو تروریستي ډلو تر منځ اړیکې پرې کېږي، چې دا د بهرنیو جنګیالیو لپاره په افغانستان کې د خورا مهمې ستراتیژیکې ملګرتیا پای دی او هغوی نه غواړي چې په دې جغرافیه کې داسې ملګري، چې د وخت په تېرېدو یې ډېر مشترکات ورسره پیدا کړي او د ګډو موخو په لاسته راوړلو کې ورسره جنګېدلي، له لاسه ورکړي.

دویم؛ د شوروي پر وړاندې د افغان جهاد د پای ته رسېدو تاریخ د بهرنیو جنګیالیو لپاره ډېر واضح ثبوت دی. له افغانستان څخه د شوروي له وتلو سره سم، پاکستان ټولو بهرنیو جنګیالیو ته له خپلې خاورې څخه د وتلو امر وکړ، په داسې حال کې چې زیاترو هیوادونو د امنیتي اندېښنو له امله بیرته د خپلو اتباعو قبلول رد کړل. د بهرنیو جنګیالیو مشر عبدالله عزام ډېر ژر په پېښور کې ترور شو او زیاتره بهرني جنګیالي د نورو سیمو په لټه کې شول، چې لویه برخه یې وروسته بوزنیا ته ولاړل. تر هغې جګړې وروسته چیچنیا ته خپاره شول او بیا بیرته ځینې افغانستان، عراق او نورو سیمو ته ولېږدېدل چې دا مهال په لوی منځني ختیځ کې خپاره دي. د هرې جګړې له پای ته رسېدو سره هلته بهرنیو جنګیالیو ته د پاتې کېدو زمینه هم ختمه شوې؛ ځکه یې نو د لېږد بهیر دوام کړی دی.

درېیم؛ د القاعدې د ډېرو جنګیالیو مفکوره د وژل شوي مشر اسامه بن لادن د (لرې دښمن) پر طرحه متمرکزه ده، چې موخه یې له امریکا سره دښمني ده. د دوحې د تړون او په تعقیب یې له افغان دولت سره د سولې چارې چې د امریکا د وتلو په پایله کې د جګړې په پای ته رسېدلو تمامېږي، په هېڅ دلیل د دې ډلې د غړو لپاره د منلو وړ نه شي کېدلای، ځکه چې د دوی اصلي موخه د امریکا خلاف جګړه ده.

څلورم؛ بهرني جنګیالي د افغانستان طبیعي جوړښتونه، غرنۍ جغرافیه او د وګړو مقاومت د نړیوالو رقیبانو د ځپلو په موخه د (سترې کولو) په ستراتیژي کارولو کې غوره ګڼي. د دې اصل له مخې، دوی د روسانو په څېر امریکایان په افغانستان کې ښکېل ساتل غواړي، څو په دوامداره توګه اقتصادي، نظامي او سیاسي زیان ووینې او په کور دننه مات شي. سره له دې چې د افغانستان جګړه د امریکا د تاریخ تر ټولو اوږده جګړه ده؛ خو د بهرنیو جنګیالیو لپاره د دغه حالت دوام مهم دی.

پنځم؛ د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د بهرنیو جنګیالیو د تګ راتګ، استخدام، نورو سیمو ته د لاسرسي او استوګنې له اړخونو خورا مهم دی. دلته د نړۍ د ډېرو هیوادونو نظامي، سیاسي او استخباراتي حضور بېلابېلو جنګي ډلو ته د هغو د پروګرامونو د پلي کولو لپاره زمینه برابره کړې ده، چې په دې توګه د بل داسې ادرس تصور نه شي کېدلای.

شپږم؛ د افغانستان د ګاونډیو هیوادونو بیا په ځانګړې ډول د مرکزي آسیا له هیوادونو څخه راغلي بهرني جنګیالي چې له طالبانو سره په همغږې ډول د خپلو حکومتونو پر وړاندې وسله واله مبارزه کوي، د ختیځ ترکستان د اسلامي خوښت او قفقازي وګړو په ګډون هغه وسله وال، چې افغانستان یې د فعالیتونو سیمو ته نږدې دی، نه غواړي چې دلته پټنځایونه او ستراتیژیک ملګري (طالبان) له لاسه ورکړي.

اووم؛ د بهرنیو جنګیالیو په لیکو کې ځینې مذهبي مبلغین د خپلو مذهبي اصولو د خپراوي په موخه افغانستان ته راغلي دي. کله چې په ۱۹۷۹ کال کې پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، د سعودي په ګډون د ډېرو عربي هیوادونو وګړو او حکومتونو افغانان د حنفي فقهي د پیروۍ په دلیل سم مسلمانان نه ګڼل؛ ځکه یې غبرګون کمرنګه و او هغه وو چې وروسته بیا د لوېدیځ په ځانګړې ډول امریکا په هڅو د افغان جهاد ملاتړ ته وبلل شول. دوی د سیاسي موخو تر څنګ، د حنفي فقهې د بدیل وړاندې کولو په موخه ورسره یوځای شول، چې له هماغه وخته ځینو بهرنیو جنګیالیو د یوې موخې په توګه دلته مذهبي فعالیت او د کلتور او قومي جوړښتونو محوه کول، د یوه ماموریت په توګه تعقیب کړي دي او د دې ماموریت دوام ورته مهم دی؛ ځکه نو د سولې چې په هغه کې دوی خپل حضور نه ویني او موخو ته د رسېدو پر وړاندې یې خنډ ګڼي، مخالف دي. دا او دې ته ورته ډېر نور موارد دي چې د طالبانو او بهرنیو جنګیالیو د ارزښتونو او ګټو ټکرونه پکې څرګندېږي.

د تېرو څلورو لسیزو په اوږدو کې د ټولو جګړو مفصله څېړنه، د سیمه ییزو جنګیالیو او د هغو د بهرنیو ملاتړو جنګیالیو تر منځ د لانجو او ټکرونو سلګونه بېلګې لري، چې په ټولییز ډول ثابتوي چې بهرني جنګیالي که څه هم چې د مرستې یا تر ډېره د جهاد په نامه د بې وزلو هیوادونو مرستې ته ورغلي دي؛ خو په ټولییز ډول تر یرغلګرو مضر ورته ثابت شوي دي. د افغانستان په قضیه کې دا خبره ډېره روښانه ده. د طالبانو ټول حکومت د القاعدې ډلې د اعمالو او د سپټمبر د ۱۱ مې د بریدونو قرباني شو او په دوام یې د نږدې دوو لسیزو ټول بحران چې تر اوسه روان دی، تر ډېره د همدې بهرنیو جنګیالیو له امله دی.

په دې توګه بهرني جنګیالي نه غواړي چې په افغانستان کې داسې سوله رامنځ ته شي، چې هغه د دوی له موخو سره په ټکر کې وي. د روان مذاکراتي بهیر د سبوتاژ او ورته هڅو د مخنیوي په برخه کې د دغو ډلو هر ډول ورانکارې هڅې او دسیسې د تصور وړ دي. ډېر احتمال لري چې د همدې کړیو لخوا طالبانو ته د فتحې کاذب غرور ورکړل شي او د مذاکرې مقابل لوری چې د یوه نظام استازولي کوي، له خبرو پر شا کړي؛ خو که د دغه سوله ییز بهیر له لارې د روان بحران د حل چانس له لاسه ووت، بیا به نو د طالبانو د دې نسل ژوند هم روانه جګړه اخلي.

**وړاندیز:**

دا چې د افغان دولت پر وړاندې د بهرنیو جنګیالیو ملتیا له طالبانو سره ده، د طالبانو رهبرۍ ته پکار ده چې د خپلې جغرافیې په دننه کې د هیودانۍ روحیې پر بنسټ له یادو ډلو سره د خپلو موخو د توپیرونو په نظر کې نیولو لارې بېلې کړي. دا هڅه په تدریجي ډول د هغوی له ایډیالوژیک اغېز څخه راوتل، د هغوی د نظامي دوکتورینو، تاکتیکونو او نقشو څخه مخ اړول او له خپلو لیکو څخه د هغو ایستل بریالي کولای شي.

د دې لپاره چې د افغانستان پر ګټو متمرکز شي، ورته پکار ده چې اوربند وکړي او په دغه موده کې چې له افغان دولت سره د سولې خبرې پر مخ وړي، له افغانستان څخه د بهرنیو جنګیالیو د ایستلو اقدامات وکړي. دا چاره به د سولې د ټینګښت په موخه د نورو جګړه ییزو ګروپونو د مخنیوي په برخه کې هم مرسته وکړي او که طالبان د حکومت برخه ګرځي، سنګرونه به یې له بهرنیو جنګیالیو نه ډکېږي.

# بشري ناورین او ملي ماتم؛

## طالبان او حکومت یو بل د جګړو په اوږدولو او ملکي مرګ ژوبله تورنوي



پرون په کابل کې د ورمې ورځې د پېښې له امله د غم ټغر خپور و او په ټول هېواد کې ملي ماتم اعلان شوی و. سره له دې چې د دې خونړۍ جګړې اصلي قربانیان عام افغانان دي، خو بیا هم د جګړې ښکېل لوري یو بل د جګړو پر تودولو او د خونړیو بریدونو پر ترسره کولو تورنوي.

پرون ګڼو افغان چارواکو په بېلو پیغامونو کې وسله وال طالبان د دغه برید مسوول وبلل او د دې ټولو پر وړاندې بیا زلمي خلیلزاد وویل چې برید طالبانو نه دی کړی، بلکې د طالب او حکومت د ګډ دښمن کار دی. د قربانیانو کورنۍ بیا حکومت د لومړي درجه مسوول په توګه په پېښه کې پړ بولي.

ورمه ورځ په کابل ښار کې د افغانستان پر ستر تحصیلي مرکز (کابل پوهنتون) خونړی برید وشو. وسله وال دغه پوهنتون ته ننوتل او پر محصلینو یې ډزې وکړې. تر شلو پورې محصلین او د پوهنتون استادان یې ووژل او له افغان ځواکونو سره یې اوږده نښته وکړه. دا برید په کابل کې پر امریکایي پوهنتون تر برید وروسته دویم و چې پر لویو تحصیلي مرکزونو ترسره کېږي.

له دې پېښې وروسته ګڼو افغان چارواکو، نړیوالو بنسټونو، ګاونډیو او نورو هېوادونو غبرګونونه وښودل او دا یې ستر بشري جنایت وباله. سره له دې چې طالبان په دې برید کې لاس لرل رد کړي، خو افغان حکومت ټینګار کوي چې دا برید وسله والو طالبانو کړی دی. د ولسمشر لومړي مرستیال پرون سهار په خپاره کړي پیغام کې وویل، دوی داسې سندونه او ثبتونه لري چې ګواکې پر کابل پوهنتون د ورمې ورځې برید طالبانو او حقاني شبکې کړی دی. د ده په خبره، له بریدګرو سره داسې توکي موندل شوي چې ښيي دغه کسان د حقاني شبکې غړي دي او د طالبانو تر چتر لاندې فعالیت کوي. هغه وایي: ((موږ اسناد لرو، موږ به لا ډېرې څېړنې وکړو، خو دا بریدونه په خپل ډول کې د حقاني شبکې بریدونو ته ورته دي. په کابل کې د داعش په نامه د عملیاتو پلان کوونکي د حقاني شبکې غړي دي. که طالبان هر څه ووایي، خو د دې برید مسوولین دوی دي. ځان له دې مسوولیت نه شي خلاصولی)).

د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب هم وایي چې د دغه برید مسوولین وسله وال طالبان دي او په خبره یې، افغان پوځ به غچ ترې واخلي. هغه زیاته کړې چې له ترلاسه شوو اسنادو ښکاري، دا برید طالبانو کړی او دغه ډله یې مسووله ده. د ده په خبره: ((طالبان په یوه پیغام ځان نه شي خلاصولی، دا یې لار نه ده چې یو پیغام خپور کړي او ووایي چې برید دوی نه دی کړی. اصلي مسوولین یې دوی دي)).

د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي مشر معصوم ستانکزي هم په ټویټ پیغامونو کې طالبان په دې برید کې ملامت بللي او په خبره یې، که دغه ډله په رښتینې توګه د عامو افغانانو د وینې درولو ته ژمنه ده او غواړي چې د دښمن لاس د افغان انسان له مرۍ لنډ شي، نو اوربند دې وکړي. د ده په وینا، طالبان پر کابل پوهنتون د برید له مسوولیت ځان نه شي خلاصولی او نه هم ځان ترې پاکولی شي، خو که رښتیا غواړي جګړه ودرېږي او د افغانانو ګډ دښمن کمزوری شي، نو باید اوربند وکړي. د ده په خبره: ((طالبان په هېڅ صورت د دې برید له مسوولیت ځان نه شي خلاصولی. باید اوربند وکړي او د دښمن لاس لنډ کړي. دا برید د بریدګرو پر تندي تور داغ دی چې په هېڅ صورت نه بښل کېږي)).

له دې ټولو ورهاخوا امریکا د طالبانو دفاع ته رادانګلې دی. زلمي خلیلزاد په خپلو ټویټ پیغامونو کې په واضح توګه ویلي چې دا کار د طالبانو نه دی، خو طالبانو او حکومت ته په کار ده چې ژر تر ژره د سولې یو توافق رامنځ ته کړي او د ګډ دښمن پر وړاندې جګړه وکړي. هغه ویلي: ((دې برید وښوده چې دلته نورې ترهګرې ډلې هم فعالیت کوي، طالبان او حکومت دې جګړه ودروي، باید د ګډ دښمن پر وړاندې ګډه مبارزه وکړي. ژر تر ژره دې یو توافق رامنځ ته کړي)).


له دې ټولو سره سره، د قربانیانو کورنۍ چې د غم پر ټغر ناستې دي، حکومت د خلکو د امنیت لومړۍ درجه مسوول بولي. دوی له حکومت غواړي چې ژر تر ژره دې د پېښې طراحان او اصلي عاملین ونیسي، حقایق دې له خلکو سره شریک کړي او د روانې جګړې د پای لپاره دې عملي ګامونه اوچت کړي.

## د کتــاب خبــري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. ایس دولت، اسدوراني او ادیتیا سینها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک



دورانـی: زه پـه لومړي ځل اسـتخباراتي ډګـر تـه د مالدیـف د اشـغال پـر مهـال ننوتـم. همدارنګـه نیپـال هـم هغـه مهـال ډېـر فعـال و، ځکه چـې له چیـن څخه یـې د (MPA) شـپږ میلـه ښـکاري وسـلې پېرلـې وې. لـه دې پېښـې وروسـته راجېـو ګانـدي پـر وسـلو بندیـز ولـګاوه. مـا وویـل، که د هنـد او نیپال تـر منځ وضعیت داسـې وي، زموږ لپاره څه کـول پـه کار دي؟ مـوږ یـې بایـد د دوام هیلـه کـړې وای، خـو دا کار هغـه وخت شـونی و چـې یـو چـا تعقیـب کـړی وای. مـوږ بایـد لـه فرصت څخـه څنګه ګټـه اخیسـتې وای؟ د بېنظیـرې حکومـت نـه لېوالتیـا درلـوده او نه هم پـه دې پوهېده چې څه وکړي. ما ځینو ملګـرو تـه وویـل چې جـنرال ضیا څه کـولای شي؟ موږ پـه دې هوکړه وکـړه چې ضیا یې کـولای شي. خلـک بـه ځینـې اقدامـات وویـنـې - اعلامیې، لیدنـې کتنې، له سـفیر سره خـبرې او نـور کارونـه. بلاخـره د نیپـال د سـفیر لیـدو ته ورغلـم. کتمندو معمـولاً متقاعد پوځـي افسـران پـه بهـر کې د سـفیرانو پـه توګه ګومـارلي وو. پـه دې ورځـو کې یو شـمېر پوځـي کسـانو لـه یـو بـل سره لیـدلي وو. سریلانکایانـو هـم ورتـه کار کـړی و. سـفیر تـه ورغلـم او ورتـه مـې وویـل چـې موږ څه مرسـته کولای شـو؟

سپېنها: هغوی په سفارت کې پوځي افسر د ضیا لپاره ګومارلی و؟

دورانـی: ممکـن. زمـا لپـاره دا پـه هنـد کـې یـو نـوی تحـول و، مـوږ بایـد څنګه ګټـه ترې اخیسـتې وای؟

دولت: څنګه ګټه ترې اخیستی شو؟

دورانـی: د کټمنـډو (د نیپـال پلازمېنـه) پـه ماښـامنۍ کـې مـوږ درې کسـان وو، مـا لـه خپـل کوربـه څخـه پوښـتنه وکړه چې ستاسـو پـر موجودیـت سربېـره هند نیپالیـان خپه کـوي؟ هغـه وویـل، هـو البتـه. ځکه چې دلتـه یو غټ هېـواد دی، هند چـې هجمونیک( ځواکمـن نفـوذ) تمایـلات لـري. هغـوی غواړي موږ تـر خپل نفـوذ لاندې وسـاتي، موږ ته وایـې چـې څـه ډول نظـام بایـد ولـرو، هغوی ته مهمـه نه ده چې ایـا دا نظام زمـوږ په ګټه دی او کـه نـه. هغـوی غواړي چې موږ د هند یو ایالت اوسـو. دا هغـه څه دي چې هغوی لـه سـیکیم (د هنـد یـو ایالـت) سره څـه وکـړل؟ خـو دا یـوازې د هنـد او پاکستان خبره نـه ده. افغانسـتان او پاکسـتان: مـوږ تـر هنـده کوچنی هېواد یـو او تر افغانسـتان بیا ډېر لـوی، قـوي او تـر نیپـال ډېر لانجمن. لا هـم افغان جنرالان راځي او وایي چې تاسـو فکر کـوئ چـې مـوږ بایـد ستاسـو پنځمه یا شپږمه صوبه اوسـو. کلـه چې زمـوږ خلـک هغوی تـه د کوچنـي ورور خطـاب کـوي، نو هغـوی سـملاسي ځـواب ورکړي چې کوچنـی ورور؟ مخکـې لـه دې چـې تاسـو پیـدا شـی، مـوږ پـه دې خـاوره کـې ۲۰۰ کالـه مخکـې ژونـد کاوه. پنځـوس کالـه مخکـې موږ په افغانسـتان کې ستاسـو په نـوم څوک نـه پېژندل. دا د یـوه مغـرور هېـواد مقایسـه ده او دا هغه ګاونـډی دی چې زموږ ترځنګ پـروت هم دی.

دولت: نیپالیانو تل غوښتل په دې اعتراف وکړي چې هغوی زموږ کوچني وروڼه دي.

سپېنها: ښه هغه نیپالي سفیر چې پوځي افسر و، څه وویل؟


دورانـی: هغـه وویـل «موږ هڅـه کوو چې یوازې له چیـن سره نږدې اړیکې ولرو او مرسـته تـرې ترلاسـه کـړو. یـوازې پـر هنـد باندې تکیـه نه شـو کـولای.» هېڅکله ټولـې هګۍ په یـوه جالـۍ کـې مـه ږده. بلاخـره هېڅ ونه شـول. پاکسـتان په هغـه موقف کې نـه و چې پـه مالدیـف او نیپال دواړو کـې کار وکړي.

سپېنها: ایا سفیر بیا ستا ملګری شو؟

دورانـی: زه بیـا ورغلـم او یـو یا دوه ځلي مې ورسره ولیدل. کله چې زه د اسـتخباراتو مشر وم، پـه تشریفـاتي پروګرامونـو، د بهرنیانـو پـه ملـي ورځـو او نـورو پروګرامونـو کـې بـه مې ګـډون نـه کاوه. مـا یوازې د ملي ورځـو د نمانځنې په دوو پروګرامونو کې برخه اخیسـتې وه چـې یـو ځـل کلـه چـې د بهرنیـو چـارو وزیـر موچکنـد دوبي اسـلام‌اباد ته راغلـی و، د مـاني ډېکشـېت لـه لـوري دعـوت راکـړل شـو. ما غوښـتل چې ماني سـم وپېژنـم. له هغه سره مـې هغـه وخـت ولیدل چـې هغه مهال په پوځي اسـتخباراتو (MI) کـې وم او د پوځ د لـوی درسـتیز پـه دفتر کـې وم. مـاني د هنـد د عالي کمېشـنر یا سـفیر په توګـه دنده تـرسره کولـه او لومـړۍ اړیکـه یـې لـه اسـلم بېګ سره جـوړه شـوې وه، چې چـارې یې په سـمه توګـه پرمـخ بېولـې، کـه څـه هـم نومـوړي به کلـه کله ډېـر خراب نـشرات کـول. تر نیـم سـاعت وروسـته اسـلم بېـګ وویـل چې موږ بـه یو سـتر کار وکـړو (ضرب مومـن). په هنـد کـې د (Brasstacks) تـر عملیاتو وروسـته موږ نه غوښـتل چې ناسـم پیغام ولېږدوو یـا اندېښـنې راولاړې کـړو. هغه وویـل: «مـوږ غـواړو چـې دا عملیـات لـه پولـې څخـه پـه ښـه توګـه لـرې وسـاتو.» ماني ډېکشـېت چې یـو مسـلکي ډیپلومـات و، وویـل: «جنرالـه، کلـه چـې کـور تـه سـتون شـوم، ستا پیغـام بـه خلکـو تـه ورسـوم». **دوام لري...**

# مذاکره

◄ اکسوس کتابپلورنځی




ستاسـو پـه ژونـد او کاروبـار کـې د بریـا یـو لامـل دا دی چـې پـه هـر وخت او هـر ډول شرایطـو کـې پخپلـه ګټـه مذاکـره وکـړای شـی. مذاکـره اړیـن مهـارت دی چـې ستاسـو پـر چلـن، وینـا، شـخصي او کاري معاملـو اغېـز کـوي. کـه پخپلـه ګټـه مذاکره تـر سره نـه شـی کـړای، نـو د داسـې کسـانو لپـاره بـه قربـاني شـی چـې تـر تاسـو ښـه مذاکره‌کوونکـي دي. کـه ښـه مذاکره‌کوونکـي واوسـئ، نـو تـل ښـه عایـد تـر لاسـه کـولای او ښې معاملـې تـر سره کـولای شـی.

کېـدای شي ژونـد تـه د خـبرو اتـرو د یـوې اوږدې پروسـې (لـه پیدایښـت نـه تـر مړینـې پـورې) پـه سترګه وګـورو. مذاکـره هېڅکلـه نـه درېـږي. مذاکـره پـه ژونـد او لـه نـورو سره د اړیکـو پـه جوړولـو کـې بنسـټیزه ونـډه لـري. خلـک د مذاکـرو پـه مرسـته د ژونـد او کار د جوړولـو لپـاره د یـو بـل تـر څنـګ بېلابېـل ارزښـتونه او سـلیقې مونـدلای شي. ستاسـو وړتیـا د یـوې بریالـۍ مذاکـرې پـه تـر سره کولـو کـې لـه نـورو سره ستاسـو د ښـه تعامـل ښـکارندویي کـوي، ځکـه انسـان تـل دا خوښـوي چـې ژونـد یـې پرمختـګ وکـړي. مذاکـره د تمـدن لـه پیـل څخـه تـر اوسـه شـته. پـه اوس وخـت کـې ټـول د ښـه کار او ښـو شیانو پـه لټـه کـې دي. ټـول خلـک غـواړي چـې پـه لږ وخـت، لـږو لګښـتونو، سـاده لارو او ژر تـر ژره خپلـو موخـو تـه ورسـېږي. مـوږ ټـول لـه داسـې کسـانو سره پـه سیالۍ کـې یـو چـې هغـوی هـم غـواړي زمـوږ د موخـو د پایلـو پـه څېـر هـر څـه تـه ورسـېږي. پـه جوړجـاړي، مذاکـرې او مبادلـې بېلابېلې غوښـتنې او اړتیـاوې تـر لاسـه کـولای او دا بـاور درلـودلای شـو چـې ښـې لاس تـه راوړنـې بـه ولـرو.

د هـر څـه ارزښـت او بیـه هغه وخت ټاکل کېـږي چـې ارزښـت او غوښـتنه یـې لـوړه وي. د څیزونـو ارزښـت د یـوه ځانګـړي کـس لپـاره پـه ځانګـړي وخـت او شرایطـو کـې ټـاکل کېـږي. ارزښـت لـرل تـل شـخصي پرېکـړه ده؛ خـو مـوږ هېڅکلـه لـه مخکـې د یـو شي وروسـتۍ بیـه یـا مناسـب شرایـط نـه شـو ټاکلـی. خلـک تـل پـه یـوه معاملـه کـې د خپلـو اړتیـاوو پـه لیدلـو یـوه بیـه وایـي، یـا یـوې بیـې تـه زړه ښـه کـوي. شـخصي ارزونـه؛ یانـې دا چـې د سـامانونو، پیسـو، خدماتـو یـا نـورو شـیانو د بدلولـو او رابدلولـو انګېـزه درکـړي. کـه د معاملـې دواړې خـواوې پـر دې بـاور ولـري چـې د معاملـې لـه تـر سره کولـو وروسـته د دوی حالـت تـر پخـوا ښـه کېـږي، نـو لګښـتونه او شرایـط منـي. د هغـوی پـه فکـر همـدا فکـري اختـلاف سـیالي لا پـه زړه پـورې کـوي.

کله چـې دا کتـاب لولـی، پـه دې اړه فکر وکـړئ چـې زه بایـد لـه نـن څخـه ښـې لاسـته راوړنـې ولـرم او هغـه وخت چـې دا مفکـورې عملـي کـړی، حیـران بـه شـی چـې څه ګټـوره مذاکره مو تـر سره کـړې او څومـره یـې لـه پایلـو خـوښ یاسـتی.

مینـه وال کـولای شي یـاد کتـاب پـر اکسـوس سربېـره، د ښـار لـه نـورو لویـو کتابپلورنځیـو هـم پـه مناسـب قېمت تـر لاسـه کـړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | مبادي فقه | شمس الاسلام شمس ساپی | ۲۵۰ؤ |
| ۲ | د بیمې حقوق | شمس الاسلام شمس ساپی | ۲۲۰ؤ |
| ۳ | د اساسي حقوقو عمومي اصول | بشارت الله شینواری | ۲۳۰ؤ |
| ٤ | د مدني محاکمو اصول | شمس الاسلام شمس ساپی | ۲۳۰ؤ |
| ۵ | تعاملي حقوق | عبیدالرحمن الکوزی،<br>شمس الاسلام شمس ساپی | ۲۰۰ؤ |
| ٦ | مصادر الحق في الفقه الاسلامي | عبدالرزاق السنهوري/مصطفی نیازی | ۱۸۰ؤ |
| ۷ | د جزا نړیوال حقوق (لومړی ټوک) | حفیظ الله دانش/بصیر احمد کوچی | ۱۸۰ؤ |
| ۸ | د سکندرخان خټک کلیات | میاوکیل شاه فقیرخېل | ٤۲۰ؤ |
| ۹ | افغانستان له هورا تر تکبیره ۱۳۹۳-۱۳۵۷ل | محمد صفر خواریکښ | ۵۰۰ؤ |
| ۱۰ | الجبر | خیبر صبروال | ۲۷۰ؤ |
| ۱۱ | عمومي فزیک | عبدالقهار حساس | ۲۵۰ؤ |
| ۱۲ | عمومي حساب | خیبر صبروال | ۲۰۰ؤ |
| ۱۳ | عمومي هندسه | عبدالقهار حساس | ۲۵۰ؤ |
| ۱٤ | عالي ریاضي | خیبر صبروال | ٤۲۰ؤ |
| ۱۵ | فزیک بانک | عبدالقهار حساس | ٤۰۰ؤ |
| ۱٦ | له طالبانو وروسته په افغانستان کې دولت جوړونه | جیمز ډابین/فیض محمد ځلاند | ۲۵۰ؤ |
| ۱۷ | د ویونو او ریونو ګنجي ویپونه | لطیف جان بابی | ۱۲۰ؤ |
| ۱۸ | سنداریز، سندریز او ریشیز وییښود | لطیف جان بابی | ۲۰۰ؤ |
| ۱۹ | کورنی طبیب | عبدالستار فیضي | ۸۰ؤ |
| ۲۰ | د احساس روغو ماشومانو لویولو لارښود | جرالد نیومارک/عبدالحی ګربز ساپی | ۱۵۰ؤ |
| ۲۱ | روغتیا او ښکلا | عبدالولي اعتماد | ۱۰۰ؤ |
| ۲۲ | د پښتو فونولوژي | بایزید اڅک | ۷۰ؤ |
| ۲۳ | د عبدالقدیم پتیال مقالې | عبدالصمد ستري | ۲۰۰ؤ |
| ۲٤ | روانشناسی عمومی | زهره ولید رحمانی | ۳۰۰ؤ |
| ۲۵ | پښتو تطبیقي غونډله پوهه (نحوه) | محمد قسیم چمتو | ۲۳۰ؤ |
| ۲٦ | تولیدي فونولوجي | عبدالسمیع وحدت | ۱۵۰ؤ |
| ۲۷ | دخبر لیکنې بنسټونه | احمد توکلی/عبدالقیوم | ۱۵۰ؤ |
| ۲۸ | د غوره رهبرۍ رازونه | کن بلانچارډ، مارک ملر/وحیدالله<br>عبدالرحمن | ۱۳۰ؤ |
| ۲۹ | مینه | پاولو کویلو/حسیب الرحمن ساحل | ۷۰ؤ |
| ۳۰ | مذاکره | برایان ټرېسي/ حمیده امین | ۷۰ؤ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

همیانی

# هغه تمې چې له نورو څخه یې باید ونه لرئ

ژباړه: عطامحمد میاخېل

له نورو څخه تمه لرل د دې سبب ګرځي، چې تل مشخصې پایلې وغواړئ، چې له دې امله د نویو فرصتونو لپاره ډېر کم وخت پاتې کېږي. که تل له نورو څخه تمه ولرئ، نو طبیعي ده چې په پرله‌پسې توګه له ناهیلۍ سره لاس و ګرېوان یاست، ځکه ډېر کم داسې پېښېږي چې دا تمې مو پوره شي. موږ ټول پوهېږو چې نه شو کولای د ژوند ټولې چارې کنټرول کړو او دا تمه ولرو چې ټول زموږ له غوښتنې سره سم چلند وکړي.

فرض کړئ که تاسې یوڅه زده کړئ، څه به پېښ شي؟ که له نورو څخه تمه ونه لرئ، په ژوند کې به مو کوم مثبت او په زړه پورې بدلونونه رامنځ ته شي؟ ځواب دا دی چې بیخي ډېر بدلونونه به راشي.

**۱ـ دا تمه مه کوئ چې نور تاسو ته ویاړ او اعتبار درکړي**

ستاسو ارزښت او اعتبار ستاسو په دننه کې دی، نور انسانان خپل ژوند لري او په خپله ډېر مسوولیتونه او اړتیاوې لري. هغوی ستاسو په څېر بوختیاوې لري او اړ نه دي، چې ستاسو ارزښت او اعتبار تایید کړي.

هغه څه چې وایي او هغه کار چې تر سره کوي یې، یوازې د خپلو نظریاتو انعکاس یې دی او نباید د هغوی او د خپلو غوښتنو تر منځ تېروتنه وکړئ، تاسو هم په خپلو چلندونو او کړنو سره خپل ځان ته اعتبار ورکړئ او دې په تمه مه پاتې کېږئ، چې نور د خپلو غوښتنو پر بنسټ تاسو ته امتیاز او ارزښت درکړي.

**۲- دا تمه مه کوئ چې نور تاسو وهڅوي او ومو ستایي**

ښايي تاسو وستایل شی او یاهم ونه ستایل شی، خو نه شی کولای چې خپل ځان د نورو له هڅونو سره وتړی، که کوم ښه کار تر سره کړی او د نورو له خوا ستایلو ته په تمه پاتې شی، نو خپل ځان به له ناهیلۍ سره مخ کړی، نو د نورو لخوا د خپل ځان د ستایلو او هڅولو لپاره کوم کار مه تر سره کوئ؛ بلکې یوازې د خپل زړه د غوښتنې پر بنسټ کار تر سره کړئ، څو ښه احساس ولری او له ځور او کړاو سره مخ نه شی.

کوم کار چې ستاسو له غوښتنې او باور سره همغږی وي، نو تاسو به خوشاله او راضي کړي، حتی که یو کس هم تاسو ونه ستایي، په خپله د خپل ځان هڅوونکی واوسئ، کله چې کوم ګام په سمه توګه پورته کوی، نو له خپلې مخې څخه خندونه لرې کوئ یا پر نورو باندې مهرباني کوئ، خپل ځان په خپله وهڅوئ او وې ستایئ او دغه راز خپل ځان ته مکافات ورکړئ.

مهمه نه ده چې نور څه څیزونه ویني او ورته پام کوي، هغه څه چې ډېر زیات ارزښت لري، دا دي چې تاسو د خپل ځان په اړه څه فکر کوی، له خپل ځان سره هوکړه وکړئ چې له خپل ځان سره مثبتې خبرې اترې ولرئ او له دې لارې خپل ځان ته اعتبار ورکړئ.

**۳- دا تمه مه کوئ چې نور تاسو ته انګېزه درکړي**

هېڅوک نه شي کولای چې ستاسو په څېر، تاسو ته انګېزه درکړي، د بېلګې په توګه، یو دوست مو کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي، کله چې بې حوصلې او ناهیلي یاست له خپله ځایه پورته شئ او یو ځل بیا یې پیل کړئ، خو نه شي کولای چې دې ته مو اړ کړي، چې له خپله ژونده خوند واخلئ، دا ستاسو مسوولیت دی چې موخه وټاکئ او هغې ته د رسېدو لپاره له لوړو او ژورو تېر شئ.

دا تمه مه لرئ چې یو بل شخص تاسو ته د انګېزې درکولو لپاره خپل وخت او انرژي مصرف کړي، اړتیا نشته چې موخه مو ډېره ستره وي، خو هرڅه چې ده، باید تاسو ته پرمختګ در په برخه کړي او پر ارزښتونو باندې مو یو ارزښت ور زیات کړي.

که کومه ستره موخه لرئ، نو هغه په کوچنیو او د لاسرسي وړ موخو باندې ووېشئ، په یوه ګوښه کې ناستې او د نورو لخوا د انګېزې د تر لاسه کولو لپاره په تمه پاتې کېدل به تاسو د میدان بایلونکی کړي. داسې یوه انګېزه په پام کې ونیسئ، چې تاسو له لټۍ او سستۍ څخه بهر کړي او دې ته مو اړ کړي چې د عمل میدان ته ور ودانګئ.

**۴- دا تمه مه کوئ چې نور تاسو درک کړي**

هېڅوک اړ نه دي چې خپل ځان ستاسو پر ځای مېشت کړي، ستاسو شرایط درک کړي، یا ستاسو خبرو او د زړه خواله ته غوږ ونیسي. دا مه هېروئ چې د دې ټولو انسانانو تر منځ چې د ځمکې پرمخ ژوند کوي، داسې دوه کسان به پیدا نه کړی چې ژوند ته په یوه نظر وګوري او یو شان باورونه ولري، نو دا تمه مه کوئ چې نور پر دې باندې پوه شي، چې ستاسو په ذهن او زړه کې څه تېرېږي.

دا سمه ده چې موږ داسې کسان پېژنو چې له موږ سره ډېر زیات فکري ورته والی لري او موږ درک کوي، خو دا پېښه نباید په تمې باندې بدله شي. دا ومنئ چې طبیعي ده، کله وخت نه شو کولای چې داسې کوم څوک پیدا کړو، چې موږ درک کړي او پوه شي. دا هڅه مه کوئ چې خپل افکار او باورنه پر نورو باندې ومنئ، اجازه ورکړئ چې هغوی خپل ژوند او د فکر ښه ولري.

**۵- دا تمه مه کوئ چې نور ستاسو د خوش بینۍ سبب شي**

یوازې تاسو یاست چې کولای شی د خپل ژوند فرصتونه پیدا کړی او په خپلو اړیکو کې د سمو او مثبتو انسانانو پر لوري جذب شی. که دوست مو تل له خپلو نه لرونکو څیزونو او نیمګړتیاوو څخه شکایت کوي او ستاسو حالت خرابوي، دا تاسو یاست چې کولای شی له هغه سره خپلې اړیکې کمې کړئ.

نړۍ له داسې انسانانو ډکه ده چې تل شکایتونه کوي، دا تاسو یاست چې باید تصمیم ونیسئ، له منفي کسانو سره ډېر وخت تېر کړی او یا هم له خوشبینو کسانو سره. د فکر ښه مو په خپل لاس کې ده او هېڅوک نه شي کولای دې ته مو اړ کړي، چې ښېګڼې ووینی یا بد ګړې.

**٦- دا تمه مه کوئ چې نور تاسو خوشاله او راضي کړي**

که هڅه وکړی چې د داسې یو کس په لټه کې واوسئ، چې تاسو ته له ژوند څخه خوښي او رضایت در په برخه کړي، نو په دې پوه شئ چې هڅه مو بې ګټې ده، هېڅ تمه مه لرئ چې یو بل کس دې ستاسو د خوښې په ټولو معیارونو باندې برابر وي او له ژونده ستاسو د خوښۍ او خوشالۍ سبب دې شي. دا تاسو یاست چې له خپل ژوند څخه د خوښۍ او رضایت اسباب برابروی.

دا چې بریالي شوی، د نورو له تمې څخه لاس واخلئ، دې ته مو پام کېږي چې په سمه توګه له نورو سره د اړیکې ټینګښت څومره آسانه او خوندور دی او یوه دوه اړخیزه اړیکه چې د تمې پر بنسټ نه وي ولاړه، کولای شي چې راضي مو کړي.


لومړی خپله ستونزه له خپل ځان سره مشخصه کړئ او وګورئ، چې کومې وړتیاوې، کومې بوختیاوې او کوم تخنیکونه تاسو له خپل ژوند څخه راضي کوي، له دې وروسته له نورو سره له کومې تمې پرته د اړیکې د ټینګښت په لټه کې شئ.

## خلیلزاد: طالبان او افغان حکومت دې د امتیاز غوښتلو جګړه پای ته ورسوي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، پر کابل پوهنتون برید وښوده چې طالبان او افغان حکومت باید د یو بل پر وړاندې د امتیاز غوښتلو جګړه پای ته ورسوي.

دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ یوه ډله وسله والو کسانو پر کابل پوهنتون برید وکړ چې د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په دغه برید کې ۲۲ تنه ووژل شول او ۲۲ نور ټپیان شوي دي. داعش ډلې د دغه برید مسوولیت منلی دی.

په ورته مهال د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد پر کابل پوهنتون برید په کلکه غندلی او دا یې د داعش ډلې کار بللی دی.



نوموړي زیاته کړې، دغه برید وښوده چې په سیمه کې نورې ترهګرې ډلې هم شته او د افغانانو ګډې دښمنې دي چې پر وړاندې یې جدي مبارزې ته اړتیا ده.

خو طالبان په افغانستان کې د نورو ډلو شتون ردوي او وایي چې د حکومت پرضد یوازینۍ فعاله وسله واله ډله دوی دي.

خلیلزاد ویلي، طالبانو او افغان حکومت ته په کار ده چې د امتیازاتو لپاره د یو بل پر ضد روانه کړې جګړه پای ته ورسوي، ژر تر ژره د سولې یو توافق رامنځ ته کړي، د ګډ دښمن پر وړاندې ګډه مبارزه وکړي او د ترهګرو ډلو د فعالیتونو مخه ونیسي.

د خلیلزاد دا څرګندونې داسې مهال دي چې ډېریو افغان چارواکو طالبان په دغه برید کې پړ بللي دي. که څه هم طالبان په دغه برید کې خپل لاس لرل ردوي، خو افغان چارواکي بیا وایي چې طالبان یوازې د یوې اعلامیې په خپرولو سره د دغه برید له مسوولیت ځان نه شي خلاصولی. دوی زیاتوي چې که طالبان ریښتیا هم غواړي چې د دغه ډول بریدونو مخه ونیول شي، نو په هېواد کې دې روانه جګړه ودروي او یو ټولمنلي اوربند ته دې لاره هواره کړي.

## پکتیاوال: په هېواد کې د ټولو ناخوالو اصلي لامل روانه جګړه ده

د پکتیا پوهنتون سلګونه محصلینو، استادانو، ولایتي چارواکو او د دغه ولایت ګڼو اوسېدونکو پر کابل پوهنتون وروستی برید وغانده او ویې ویل چې نړیواله ټولنه دې د افغانستان د نا امنیو د حل په برخه کې خپل مسوولیت ترسره کړي.

هغوی دغه برید انساني ناوړین وباله او ویې ویل چې روانې جګړې په هېواد کې هر ډول ناامني، بې ثباتي او فساد ته لاره هواره کړې ده. د پکتیا پوهنتون استادان وايي چې پر پوهنتون برید ټولو خلکو ته یې په ذهني لحاظ ټکان ورکړی او دا ډول بریدونه ثابتوي چې ترهګر هېڅ انساني ارزښت ته درناوی نه لري.



د دوی په خبره: «پر کابل پوهنتون برید په ټوله کې پر علم، پوهه، قلم او ټولو معنوي ارزښتونو برید دی چې نه په انسانیت، نه اسلامیت او هېڅ یوه عقیده کې نه توجیه کېږي او نه څوک ورته د روا والي روایت برابرولای شي.»

محصلینو دغه راز وویل چې ترهګر د ځوانانو له بیدارۍ وېره لري، خو دوی به د هېواد او خلکو لپاره په پوره هڅه او تمرکز خپلو درسونو ته دوام ورکړي. د دوی له ډلې د شرعیاتو پوهنځي محصل اکرام جمعه وايي: «پر پوهنتون، مکتب، کورس، انسټیټیوټ، روغتون، ښار او بازار برید او بې ګناه انسانانو ته زیان اړول حرام دي او دا ډول چارې یوازې خوارج تر سره کولای شي. موږ له ټولو ډلو غواړو چې لطفا د زده کوونکو او محصلینو له وژلو او زخمي کولو لاس واخلي.»

د یادونې ده، چې ورمه ورځ یو شمېر وسله والو د کابل پوهنتون مخې ته لومړی چاودنه وکړه او وروسته د حقوقي پوهنځي د ستاژ برخې ودانۍ ته داخل شول. یادو بریدګرو شاوخوا پنځه ساعته له امنیتي ځواکونو سره جګړه وکړه چې په دې موده کې د محصلینو په ګډون ۲۲ کسان و وژل شول او ۲۲ نور ټپیان شول.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦.٩٠ |
| € | ٨٩،٢٠ |
| Rp. | ٤٧٦ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ٩٨ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۴مه | د ۲۰۲۰ د نومبر خلورمه | ۶۲۳مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۲٤ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۲ |
| ۳ | ٥ | ۱۱ | ٦ | ۱۲ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵۲ | لمر ختل ۰۶:۱۵ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۳۶ | ماښام ۰۴:۵۹ | ماخوستن ۰۶:۲۴

## نړۍ



## راپورونه: په اتریش کې د وسله والو کسانو په ډزو کې ۱۹ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

۳

## راپورونه: په نګورنو قره باغ کې د تازه نښتو پر مهال لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د نګورنو قرهباغ جلاغوښتونکې سیمې پوځي چارواکي وايي چې د امریکا په منځګړیتوب له ټینګ شوي اوربند سره سره، د اذربایجان له ځواکونو سره په نښتو کې یې ۱۱ سرتېري وژل شوي او دواړو لوروته لسګونه نور کسان ټپیان شوي دي.
د وژل شویو په هغه نوملړ کې چې د پوځ د رسنیو څانګې خپور کړی، د نګورنو قرهباغ د دفاعي ځواکونو د قوماندانۍ مرستیال ډګروال ارتور سرکیسیان هم شامل دی. په دې سره د سپتمبر له ۲۷مې راهیسې چې پر دې لانجمنې سیمې د اذربایجان او په سیمه کې د ارمني ټبرو چې د ارمنستان له ملاتړ برخهمن دي، جګړه پیل شوې، د نګورنو قرهباغ د اداري د وژل شویو پوځیانو شمېر ۱۷۷ ته ورسېد.
دا په داسې حال کې ده چې د اذربایجان ولسمشر الهام علییف ورمه ورځ په یوه ټویټ کې وویل چې ځواکونو یې په سیمه کې اته نور کلي هم تر خپلې ولکې لاندې راوستي او تر هغې به خپلې مبارزې ته دوام ورکوي چې ارمنیان له دې سیمې نه وي وتلي. دغهراز د اذربایجان دفاع وزارت بیا د هېواد دننه په تارتار سیمه کې د ارمني ځواکونو په ډزو کې د یو شمېر ولسي وګړو د وژل کېدو خبر ورکړی دی.
په نګورنو قرهباغ کې چې نړیوال یې د اذربایجان د خاورې یوه برخه بولي، مېشت اکثریت ارمن ټبري واکمن دي چې د اذربایجان واکمني په رسمیت نهپېژني.

## تازه شمېرې: په امریکا کې د کرونا وبا د مړو شمېر ۲۳۷ زره او ۳۱ کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴۷ میلیونه ۴۶۱ زره او ۶۱۳ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۲۱۳ زره او ۵۶۸کسان مړه شوي او له ۳۴ میلیونه ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.
د امریکا متحده ایالتونه د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نهه میلیونه او ۵۷۰ زره او ۷۹۴ ته رسېدلې او ۲۳۷ زره او ۳۱ نور امریکایان یې مړه کړي دي.
تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د اته میلیونه او ۲۶۷ زره او ۶۲۳ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۵۵۴ زره او ۲۰۶ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۶۷۳ زره او ۶۸۶ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د یو میلیون او ۴۶۶ زره او ۴۳۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. دغه راز هسپانیا، ارجنټاین، کولمبیا، برېټانیا او مکسیکو په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## خانوادههای قربانیان: حکومت در جلوگیری از حملات هدفمند ناکام ماندهاست



خانوادههای قربانیان حمله بر پوهنتون کابل میگویند که نهادهای کشفی و استخباراتی فلج استند و در مهار این گونه رویدادهای تروریستی ناکام ماندهاند.
از این میان خانواده سهیلای بیستویک ساله، یکی از محصلین جان باخته میگوید که آنان عاملان کشته شدن او را نمیبخشند.
در همین حال خانوادۀ رقیه کریمی، از جان باختهگان دیگر این رویداد می پرسد که با این همه تدابیر و امکانات امنیتی چگونه مهاجمان مسلح به راحتی وارد پوهنتون شدند و این مکان را به کشتارگاه جوانان مبدل ساختند؟
خانواده او پس از ساعتها تلاش سرانجام از پخش شدن یک عکس او در شبکههای اجتماعی آگاه شدند که سهیلا از قربانیان این رویداد است.
فوزیه یاری، خواهر سهیلا گفت: «هر قدر زنگ زدم نمبرش رخ نمیشد به دوستایش زنگ زدم رخ نمیکرد از دروازه وزارت تحصیلات خودم را کشیدم.»
در گوشهیی دیگر از غرب کابل نیز خانوادهیی در سوگ از دست دادن دختر جوان شان نشستهاند.
پدر رقیه کریمی از دیگر قربانیان این رویداد از آن چه که ناکامی حکومت در جلوگیری از این رویدادهای هدفمند و مرگبار می گویند انتقاد می کنند.
به باور شماری از آگاهان نظامی فلج بودن نهادهای کشفی و استخباراتی و نیز نبود همکاری مردم با این نهادها سبب می شوند تا این گونه نهادهای علمی آماج قرارگیرند.


## ژوند

## د هګۍ د سپینو له دې ګټو خبر وی؟



له ډېرې مودې راهیسې نړیوال څېړونکي او ډاکټران په دې باور دي، چې کلسټرول د زړه د حملې او شکر ناروغۍ لامل کیږي؛ خو د هګۍ سپین هغه خواړه دي چې د دې دوو ناروغیو پر وړاندې مبارزه کوي؛ ځکه د هګیو سپین مضر کلسټرول اوغوړ له منځه وړي. که چېرې تاسو غواړۍ په دې پوه شی چې د هګیو سپین په خپل ترکیب کې کوم مواد لري، چې دومره ګټې لري، نو په انټرنېټ کې به یې په اړه دومره معلومات لیکل شوي وي، چې په لوستلو به یې ستړي شی.
وروستۍ څېړنې ښيي چې په ورځ کې ۵۴ ګرامه د هګۍ سپین خوړل لاندې ګټې لري:
۱: د زړه د ناروغۍ د ګواښ کچه ټیټوي
۲: عضلاتو ته وده ورکوي
۳: هډوکي پیاوړي کوي
۴: پوستکی روغ ساتي
باید وویل شي چې د هګیو له ډېرو ژیړو خوړلو ډډه وکړئ، ځکه چې د هګۍ ژیړ ډېر پیاوړي کلسټرول او غوړ لري.

## ونپلس نوي ځیرک موبایلونه معرفي کړل



د ونپلس کمپنۍ په دغو دواړو ځیرکو موبایلونو کې د ګوتې نښې سېنسر شاتنۍ برخه کې ورکړل شوی دی. د ونپلس نورډ این۱۰ بیه ۳۲۹ یورو او د ونپلس نورډ این۱۰۰ بیه ۱۷۹ یورو ټاکل شوې ده، چې انګلستان او اروپا کې به د نومبر په میاشت کې خرڅلاو ته وړاندې شي.
د ونپلس نورډ این۱۰ ۵جي ځانګړنې
دغه ځیرک موبایل ۶٫۴۹ انچه فول اېچ ډي+ ډوله مخپاڼه لري چې ۹۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. نورډ این۱۰ کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۶۹۰ ډوله پروسېسر او اډرینو ۶۱۹ ګرافېکس کارت کارول شوی دی. دغه ځیرک موبایل کې ۶ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې، چې کاروونکي دغه وړتیا د میموري کارت له لارې تر دې هم لوړولی شي.
د ونپلس نورډ این۱۰۰ ځانګړنې
دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۴۶۰ ډوله پروسېسر، ۴ ګېګابایټ رم او ۶۴ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې ده. کاروونکي د میموري کارت له لارې د فایل ثبتونې وړتیا ۲۵۶ ګېګابایټ پورې لوړولی شي.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافي خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې ویستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافي خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

